سلطان جان کلیوال
۲۰۲۰/۰۱/۱۱

# بی اثره ګولۍ

کټـلې آزادی تـه می خطـر پیښ شـویدی
زما د سرد پاسه چی بل سرپیښ شویدی

دیره می په دیره شـو نا بللي میـلـمانه
سپیرو خړو مخو ته بل نظر پیښ شویدی

له لیرو فاصلو چی ګزارونه شی په ما
پوهیږم چی په سیمه بل محشر پیښ شویدی

یو غل می و شړلی د کابل له سردرو
بل غل راباندی لارکی د خیبرپیښ شویدی

دا څنـګه فیصله کړی ماتـم زما په باب؟
سهارنه که خطا شی مازیګر پیښ شویدی

غلیم خو می د ننګ نه لا پرون و بنه خبر

خو نن په بل ژبه بل هنـر پیـښ شویدی

اثرېي په ما نشته وروی دی سرې ګولی

دښمن می کلیواله په سپین غر پیښ شویدی

اګست/ ۲۰۰۵/۱۷

تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

بی اثره ګولۍ

S_klewal_bey_assara_golai.pdf